# ســـدوزيان

## ۱۱۶۰ ـ ۱۲۵۸ هـ ق

د سدوزو د کورنۍ لومړنی پیل د ابدالي کورنۍ څخه دئ کوم چي دغه ابدالي کورنۍ د افغانستان او هند د تاریخ یوه مشهوره کورنۍ ده. د دې کورنۍ اصلي ریښه په ۴۰۰ میلادي کي د (اپتل) یا هپتالي سره چي یوه سپین پوستې اریایي قبیله ده اړیکي پیدا کوي. دې کورنۍ په تخارستان او باختر کي یو لوی دولت جوړ کړ. مختلفو تاریخپوهانو ابدالیان په مختلفو نومونو سره لکه ابدلوي، هپتل (اودل) = ابدل = هیطل = یفتل یاد کړي دي.

اروپایان دغه هپتالیان د سپینو هونانو په نامه بولي. دغه قوم تر اسلام له مخه د اسیا په زړه کي حکمراني کوله. داسي معلومیږي چي دغه کورنۍ د افغانستان خاوري ته تر را تلو وروسته د دې خاوري د پخوانیو خلکو (پښتنو) سره ګډه سوې ده.

د اسلامي دورې په تاریخ کي لومړنی مشهور سړی (ابدال = اودل) د ترین زوی دئ. دی د شرخبون زوی او د سره بڼ لمسی دئ کوم چي د پښتنو مشهور نیکه دئ. ده د سلیمان پر غره باندي د خپلي مشهوري کورنۍ سره ژوند کاوه. د دوی نوم د پښتو په پخوانیو ادبیاتو کي اودل ـ اودلي = ابدال راغلی دئ کوم چي د ۱۰۴۸ م په شا و خوا کي ئې د پښتنو کورنۍ پر ځان را ټولي کړي وي.

څه موده وروسته د دې کورنۍ یو غړی چي ملک سدو نومېدی په یوه جرګه کي د کندهار د ریس او مشر په توګه و ټاکل سو. دی د سدوزیانو د کورنۍ لوی نیکه وو. دی په ۱۵۵۷ م کال کي پیدا سوی وو. ده خپل مرکز په ارغسان (ارغستان) کي جوړ کړ. ملک سدو د بارکزیو د ریس محمد په زمانه کي چي د محمد زیانو د کورنۍ لومړنی نیکه وو ژونـد کاوه.

له دې ځایه ویلای سو چي د سدوزو د کورنۍ نوم د ملک سدو له نامه راپیل سوی دئ چي د دې کورنۍ لومړنی پیل له ابدالي کورنۍ څخه دئ. د دې کورنۍ لومړی پاچا احمد شاه بابا دئ.

**پوښتني:**

۱ ـ د سدوزو د کورنۍ لومړی پیل له کومي کورنۍ څخه سوی دئ او هغه څوک وه؟
۲ ـ د اسلامي دورې په تاریخ کي لومړنی مشهور سړی څوک وو؟
۳ ـ ملک سدو څوک وو او څه وخت او د کوم مشهور سړي په وخت کي ئې ژوند کاوه؟

# احمد شاه بابا

(۱۱۶۰ ـ ۱۱۸۶ ) هـ ق (۱۷۴۷ ـ ۱۷۷۳) م



احمد شاه بابا

احمد شاه بابا په اصل سدوزی او د پلار نوم ئې محمد زمان خان وو . احمد شاه بابا په ۱۱۳۵ هـ ق ۱۷۲۲ م کال کې زېږېدلی دئ . پلار ئې د هرات مشر وو . د مور نوم ئې زرغونه انا وو چې په ختـه الوکوزۍ وه . مور ئې په پښتونولې د خپل زوی روزنه وکړه او ننګيالی ئې لوی کړ .

د نادر افشار د وژل کېدو په وخت کې احمد شاه بابا د نادر افشار په عسکرو کې افسر وو . احمد شاه بابا د نادر افشار کورنۍ د ښورښيانو له حملو څخه و ساتله . هغه وو چې د نادر افشار کورنۍ هغه لوی او مشهور الماس چې نادر افشار له هندوستان څخه راوړی وو ، احمد شاه بابا ته ور و باخښه . احمد شاه بابا پدغه وخت کې ۲۵ کلن وو .
پدغه وخت کې په افغانستان کې يو سم منظم حکومت وجود نه لاره . پښتنو يوه ټينګ او زورور حکومت ته اړتيا لرله څو هغه وو چې د کندهار د شير سرخ بابا په زيارت کې دپښتنو مشران سره را ټول سول او يوه لويه جرګه ئې جوړه کړه (۱۱۶۰ هجري ) د ( ۱۷۴۷ م ) کال د اوکتوبر مياشت .

پدې جرګه کې د کندهار د ډيرو قومونو مشران د احمد شاه په ګډون سره را ټول سوي ول لکه :



- د غلجو مشر ( نور محمد خان )
- د پوپلزو مشر (محبت خان )
- د سهاکزو ( اسحاق زو ) مشر (موسی خان )
- د نورزو مشر (نصرالله خان )
- د بارکزو مشر (حاجي جمال نيکه ) .

جرګې نهه ورځې وخت و نيوی ببله دې چې کومه نتيجه معلومه سي . په نهمه ورځ د مجلس ګډون کوونکو صابر شاه ملنګ ته چې أصلا

د کابل وو او خلکو د یوه روحاني سړي په سترګه ور ته کتل اختیار ور کړ چي دی دي کوم څوک انتخاب کړي. دی هم را ولاړ سو د احمد شاه بابا په لنګوټه کي ئې د غنمو یو وږی ور جګ کړ او احمد شاه بابا ئې په پاچاهي و ټاکی.

دا چي احمد شاه بابا یو ډېر مهربان سړی وو د خپل زوی او یوه غریب سړي فرق ئې نه کاوه نو ډېر زیات د خلکو د باور او اعتماد وړ وګرځېدی.

احمد شاه بابا په افغانستان کي اداري ،لښکري، مالي او مدني تشکیلات جوړ کړل او وزیران ئې مقرر کړل. د کندهار او تاشقرغان ښارونه ئې جوړ کړل. پر هند ئې حملې وکړلې او ډېر ځایونه ئې و نیول. د حیدر اباد ښار ئې هلته جوړ کړ. له سرو زرو ، سپینو زرو او مسو څخه ئې سکې جوړي کړلې.

د سلو زرو په شاو و خوا کي ئې عسکر درلودل. کلني عایدات ئې له پنجاب، کشمیر او سیند څخه د امو تر رود ، مشهد او د عربو تر بحیرې پوري ۳۱ میلیونه روپیو ته رسېدل. مګر څه چي به ئې په جنګ کي غنیمت له ځان سره راوړل پدې کي شمار نه دي.

احمد شاه بابا د پښتو ژبي تکړه شاعر وو ، د شعر دیوان ئې په زرو بیتونه لري او هم ئې په خپل دربار کي د پوهانو او عالمانو ډېر مراعت کاوه.



د خپلي پاچاهۍ په وخت کي ئې ډېر جنګي سفرونه و کړل . پر هند باندي ئې څو ځلي حملې و کړلې. هلته ئې ډېر ځایونه و نیول چي د هغو له جملې څخه ئې یو هم په هند کي د پاني پت جنګ دئ چي په هغه کي د احمد شاه بابا لوی بری په برخه سو. د احمد شاه بابا امپراتوري په لاندنۍ نقشې کي په سره خط ښودل سوې ده.



وزیر شاه ولي خان

احمد شاه بابا پسله ډېرو جنګي سفرونو څخه ناروغه سو او د کندهار له ښار څخه د توبې (کوړک) غره ته چي ښه هوا لري یووړ سو او هلته پسله څو میاشتو څخه تر ۲۶ کاله پاچاهۍ وروسته په ۱۱۸۶ هـ ق کال کي د رجب د میاشتي پر۲۰ نېټه د ۵۱ کالو په عمر د (آکلې) د ناروغۍ له امله مړ سو او جنازه ئې وزیر شاه ولي خان کندهارته راوړه او په هغه ځای کي چي پخپله ئې خوښ کړی وو ښخ کړ. احمدشاه بابا ۸ زامن

درلودل.

یادونه: د آکلې ناروغي یوه داسي ناروغي ده چي پر بدن دانې پیدا کیږي او له هغو څخه د بدن نوري غوښي خوړل کیږي.



پوښتني:

۱ـ کله چي نادر افشار و وژل سو احمد شاه بابا څه و کړه؟
۲ـ د احمد شاه بابا د پاچا کېدو د جرګې حال و لیکئ!
۳ـ د احمد شاه بابا د پاچاهۍ مهم کارونه و لیکئ!
۴ـ د احمد شاه بابا د ناروغۍ او مړیني حال شرحه کړئ!

# د تیمور شاه پاچاهي

(۱۱۸۶ ـ ۱۲۰۷) هـ ق (۱۷۷۳ـ ۱۷۹۳) م


تیمور شاه

تېمورشاه د احمد شاه بابا زوی وو. دی په ۱۷۴۲ م کال په مشهد کي زېږېدلی وو. د احمد شاه بابا د مرګ په وخت کي تېمورشاه د هرات والي وو. دی پوه او عالم سړی وو. د دري ژبي تکړه شاعر وو. د پلار تر مرګ وروسته له مخه تر دې چي تیمور شاه کندهار ته را و رسیږي ، د احمد شاه بابا صدراعظم شاه ولي خان د احمد شاه بابا دوهم زوی سلیمان شاه چي د شاه ولي خان زوم وو د پاچاهۍ پر تخت کښېناوه. کله چي تېمور شاه کندهار ته را ورسېدی نو سلیمان شاه ئې له تخته څخه ایسته کړ، شاه ولي خان ئې مړ کړ او دی پاچا سو ۱۱۸۶ هـ ق (۱۷۷۳ م).

تېمور شاه پسله لږ مودې څخه پایتخت له کندهار څخه کابل ته کوچ کړ او په کندهار کي ئې د درانیو قومونو د مشرتابه لپاره سردار پاینده محمد خان د حاجي جمال خان زوی چي د سرفراز خان په نامه ئې یاداوه وټاکی.

تېمورشاه د خپلي پاچاهۍ دوره ټوله د ښورښونو په ارامولو سره تېره کړه. په ۱۱۹۳ هـ ق ۱۷۷۹م کال کي د پېښور او خیبرلویانو تېمورشاه د پېښور په بالاحصار کي محاصره کړ، خو تېمورشاه پر دوی بری و موند او دوی ئې ټول و وژل.

څرنګه چي د بخارا پاچاهانو د سدوزو دولت ته د احترام په سترګه کتل نو احمدشاه بابا هم هر وخت د دوی د دوستۍ مراعت کاوه. مګر پدغه وخت کي د بخارا پاچا د مروي پر ښار باندي حمله وکړه او تېمورشاه د سل زرو عسکرو سره د کندوز او اقچې له لاري ورغی او په نتیجه کي ئې د شاه مراد سره جوړه وکړه او د آمو رود ئې د دواړو هیوادو تر منځ سرحد و ټاکه ۱۲۰۴ هـ ق ۱۷۸۹ م.

تېمورشاه ۲۴ زامن درلودل او هیوادئي د دوی تر منځ په لاندي ډول و وېشی:

۱ ـ کندهار ئي همایون ته
۲ ـ هرات ئي محمود ته
۴ ـ کابل ئي زمان ته
۵ ـ غزني ئي و شجاع ته
۶ ـ کشمیر ئي کهندل ته ور کړ.


د تیورشاه قبر په کابل کي

تیمور شاه پخپله په کابل کي مړ سو ۱۲۰۷ هـ ق ۱۷۹۳م. تر ده وروسته د ده زوی شاه زمان پاچا سو.

پوښتني:

۱ ـ د تیمور شاه پاچاهي څرنګه پیل سوه؟
۲ ـ کله چي تیمور شاه پاچا سو کوم مهم کارونه ئي و کړل؟
۳ ـ تیور شاه د هیواد ولایتونه چا ته ور و سپارل؟

# د شاه زمان پاچاهي

(۱۲۰۷ ـ ۱۲۱۵) هـ ق (۱۷۹۳ ـ ۱۸۰۰) م


شاه زمان

د تېمورشاه تر مرګ وروسته د ده زوی شاه زمان چي مور ئي یوسفزۍ وه د سردار پاینده محمد خان په مرسته په کابل کي پاچا سو. کله چي شاه زمان پاچا سو خپل ورونړه ئي د کابل په بالاحصار کي بندیان کړل، مګر د ده ورور شاه زاده همایون چي د کندهار والي وو د ده په مقابل کي و دربدی. هغه په کلات کي ماته وخوړه او بلوچستان ته و تښتېد.

شاه زمان په هیواد کي دننه په سختو کورنیو جګړو اخته سو . د ده ګاونډیانو د ورونو له دې نفاقه استفاده وکړه او له هر لوري ئې د هیواد پر سرحدونو حملې کولې.



همایون

شاه زمان لومړی په ۱۲۰۸ هـ ق ۱۷۹۳ م کي د پنجاب د تصفیې او د سیکانو مخ نیوي ته توجه وکړه.

کله چي پېښور ته ورسېدی د ده ورور همایون د سیند د خلکو په مرسته کندهار و نیوی. شاه زمان بیرته را و ګرځېد، کندهار ئې و نیوی او خپل ورور همایون ئې په سترګوو ړوند کړ.

پدې وخت کي د شاه زمان بل ورور محمود چي د هرات والي وو د هرات ښځه لښکر کښني و کړه. شاه زمان ده ته هم ماته ورکړه.



شاه محمود سدوزی

دا ځلي د محمود مور شاه زمان ته د محمود شفاعت و کړ او شاه زمان محمود بیرته د هرات حکمران کړ او بلخ ئې هم د بخارا د اوزبکانو ښځه و نیو.

شاه زمان غوښتل چي د احمدشاه بابا لویه امپراتوري بیا را ژوندۍ کړي او پر هند باندي حمله و کړي او هم د هغه ځای مسلمانان د انګرېز له تجاوزګرو قواوو ښځه و ساتي.



*نـــاپلیـــــون*

پدغه وخت کي ناپلیون تر مصر پوري را رسېدلی وو . د شاه زمان دربار ته ئې یو پیغام را و لېږه او له ده ښځه ئې د فرانسې سره د دوستۍ او همکارۍ غوښتنه وکړه. هغه دا چي په هند کي د انګرېزیانو مخه و نیسي . پدغه وخت کي شاه زمان د هند د نیولو لپاره د ډېرو قوي قواوو سره مخ پر پېښور روان سو ۲۵ د اکتوبر ۱۷۹۸ م . ده په لاهور کي د رنجت سنګ سره چي د سیکانو مشر وو ، خبري و کړې. هغه د ده خبرو ته غاړه کښېښوده.

انګرېزیان هم له ده ښځه په ببره کي وه او د جنګ له لاري ئې نه سوای کولای چي د ده مخه

و نیسي نو ئې د سیاسي چل څخه کار واخیست او دانګرېز د دولت یو سفیر ئې د ایران دربار ته واستاوه. دواړو خواوو یوه معاهده (تړون) سره لاسلیک کړه.

پدې معاهده کې لیکلي وه چې:

که د افغانستان پاچا پر برتانوي هند تېرى وکړي نو د ایران قاجاري لښکر به پر افغانستان حمله کوي. که د افغانستان پاچا یا فرانسوی ناپلیون پر ایران حمله وکړي نو انګرېزان به د ایران مرستې ته قوه ور استوي.

انګرېزانو د شاه زمان د له منځه وړلو لپاره د ده وررور محمود او فتح خان بارکزی چې پلار (سردار پاینده محمد خان) ئې شاه زمان ور وژلی وو او دواړه ایران ته تښتېدلي ول دې ته و هڅول چې د ایران له لارې پر افغانستان حمله وکړي. هغه وو چې دواړو لاس سره یو کړاو د هرات له لارې افغانستان ته ننوتل. تر کندهار پورې ئې تولې ځمکې و نیولې. پدې وخت کې شاه زمان پر هند باندې د حملې لپاره پر هغه لور په حرکت کې وو.

کله چې شاه زمان د دې پیښې څخه خبر سو د پېښور څخه بیرته را وګرځېد تر غزني را تېر سو. شاه زمان پدې جنګ کې ماته وکړه او محمود ئې سترګې ور څخه و ایستې، محمود پخپله په کابل کې پاچا سو او فتح خان ئې وزیر مقرر کړ ۱۲۱۵ هـ ق ۱۸۰۰ م. تر دې وروسته افغانان خپل تر منځ په کورنیو شخړو اخته سول، بیا نو څوک د هند د نیولو په فکر کې نه سول. افغانستان د وزیر فتح خان د ورونو په لاس کې و لوېد او شاه محمود تش په نامه پاچا وو.

پوښتني:

۱ـ شاه زمان چې کله پاچا سو د خپلو ورونو سره ئې څه و کړه؟
۲ـ همایون د شاه زمان سره څرنګه مخالفتونه و کړه؟
۳ـ کله چې شاه زمان د سیکانو د مخنیوي لپاره پېښور ته و رسېد په هیواد کې څه پېښه سوه؟
۴ـ د شاه زمان او ناپیلیون تر منځ کومې خبرې و سوې؟
۵ـ انګرېزان چې د شاه زمان سره په وېره کې وه نو ئې د کوم چال څخه کار واخیست؟
۶ـ انګرېزانو د ایران سره څرنګه تړون و کړ؟
۷ـ د شاه زمان او محمود تر منځ د جنګ په نتیجه کې څه و سوه؟

# د شاه شجاع لومړی ځل پاچاهي

۱۲۱۸ـ ۱۲۲۶هـق ۱۸۰۳ـ ۱۸۱۱م



شاه شجاع

کله چي شاه زمان د شاه محمود او وزیر فتح خان له خوا ماته و خوړه. شاه محمود پاچا سو. شاه محمود چي یو ډېر عیاش پاچا وو په خپله ئې هیڅ کار نه کاوه نو د حکومت چاري ئې وزیر فتح خان او د هغه ورونو ته پرېښودي. نو شاه شجاع چي د شاه زمان سکنی ورور وو او پدغه وخت کي په پېښور کي وو، له دې ناوړې پېښې څخه خبر سو نو سمدستي ئې لښکر برابر کړ او د کابل پر لور را رهي سو. شاه محمود هم له ۳۰۰۰ درو زرو عسکرو سره د ده و مخ ته ور ووت او شاه شجاع ماته وکړه ۱۲۱۶هـق ۱۸۰۱م.



وزیر فتح خان

شاه محمود ته د افغانستان په دننه کي خلک پورته سول. د دغو نا ارامیو په نتیجه کي خلکو شاه شجاع کابل ته راووست او د پاچاهۍ پر تخت ئې کښېناوه او شاه محمود ئې ایسته کړ ۱۲۱۸هـق ۱۸۰۳م.

وزیر فتح خان او شاهزاده کامران د محمود زوی، پدغه وخت کي په کندهار کي پاته ول ځکه نو شاه شجاع د شاه زمان زوی قیصر دوی ته ورواستاوه، کندهار ئې ببله جنګه و نیوی.

کله چي شاه شجاع په ۱۲۱۹هـق ۱۸۰۴م کال په پېښور کي ۳۰ زره عسکر راټول کړل او د کشمیر او پنجاب پر لور ئې حرکت کاوه، پدې وخت کي د ده ورارہ قیصر د ده په خلاف ودرېد. شاه شجاع دا ښورښ ارام کړ او قیصر ئې بیرته د کندهار حکمران کړ. د سیند د ښورښیانو سره ئې جوړه وکړه او ۳۲۰ زره روپۍ ئې ور څخه واخیستلې.



شاهزاده قیصر

پدې وخت کي شاه شجاع ته په هیواد کي دننه او له هیواد څخه د باندي حالات ډېر خراب ول. د انګرېز قواوو د هند ډېري برخي و نیولې. شاه شجاع د انګرېزانو سره د ګډې همکارۍ یوه معاهده امضا کړه.

دغه معاهده نه یوائي د شاه شجاع په درد و نه خوړه بلکي خلک ئې ور ته پورته کړل. هغه

وو چي شاه محمود د وزير فتح خان په مرسته دوه کاله د ده سره و جنګېدی. په پای کي شاه شجاع کمزوری سو او په هندوستان کي ئې انګريزي دولت ته پناه يوړه ۱۲۲۶ هـ ق ۱۸۱۱م. شاه محمود دوهم ځل بيا پاچا سو . پدې وخت کې د شاه محمود او د وزير فتح خان د ورور سردار دوست محمد خان تر منځ مخالفت پيدا سو د شاه محمود زوی کامران وزير فتح ړوند کړ. د وزير فتح خان غښتلو ورونو په ټولو ځايو کي ښوربښونه پيل کړه او سردار دوست محمد خان د کشمير څخه راغی ،کابل ئې و نيوئ.او له دغه وخته پاچاهي د سدوزو له کورنۍ څخه د محمد زو کورنۍ ته ولاړه.

**پوښتني :**

۱ ـ شاه شجاع د لومړي ځل لپاره څرنګه پاچا سو ؟
۲ ـ د شاه شجاع د پاچاهۍ دوره څرنګه تېره سوه ؟
۳ ـ شاه شجاع ولي د انګريزانو سره معاهده لاسليک کړه ؟
۴ ـ د معاهدي تر لاسليک کولو وروسته څه پېښنه سوه ؟

عبدالعلي رسولزاده
alirasulzada@hotmail.com
0046709384755